# لال جومات، ((اتحاد)) او ((اجتهاد))

لیک: انور شاهین خانخېل- پېښور (کوزه پښتونخوا)
برېښنا لیک: shaheenkhankhel@yahoo.com

که څه هم د لال جومات، حفصې مدرسې، او فریدیه مدرسې لانجه په ډېرو زیاتو او نه باور کیدونکو وینو توېولو سره سر ته ورسېده او د مړو د شمېرو په حقله هم متناقض او ګډوډ خبرونه ترلاسه شوی دی. خو په حال د سوونو سر تاوانونو په ورکولو سره قضیه ظاهراً سر ته ورسېده. په دې لانجه کښې قصور وار څوک دی او څوک په حقه دی؟ دا یوه داسې پوښتنه ده چې اوس حال کښې یې هیڅوک قضاوت نه شی کولې خو په مجموعی توګه دواړو خواو ته چې کومې وینې توې شوې، کوم تنکی ځوانان، هلکان، جینکۍ، ماشومان او د پولیس او فوځ ځوانان د ملایانو او حکومت په ډرامه کښې قربانی شول په هغو باندې پکار دی د ټولو حقیقت پسند انسانانو په تېره بیا د هر مکتب او هرې فرقې د مسلمانانو زړونه ودرېدېږی. دغه بې ځایه قربانی شوی کسان هم د مسلمان ملت لویه سرمایه وه، هغوی هم زمونږ او ستاسو بچی، ورونه او خوېندې وې، هغوی هم کور، مور، پلار، او خاندان درلودۀ، هغوی هم په دې فانی دنیا کښې دوه ورځې د عزت ژوند کول غوښتل، په هغوی کښې هر یو څه ارمانونه او خواهشونه لرل، په هغوی کښې هر کس له ځانه وروسته یو خاندان او یو شمېر وارثان په ویر او ماتم کښې پرېښودل. هغوی له دې نه څه خبر چې دا څه ډرامه ده او د کوم نړیوال فېلم برخه ده؟ هغوی څه خبر چې د حکومت او مشرانو ملایانو ترمېنځ څه تړونونه، لوظونه، قولونه او ژمنې شوې دی؟ په هغوی کښې خو د یو طرف طالب علمانو له هغه اسلام سره د مینې او جهاد په جذبې سره مقابله کوله چې د کوم اسلام تشریح ورته ملا صېب کړې وه او بل طرف ته هم امنیتی ځواکونو د قانون د حفاظت، له دهشت ګردۍ او ترهه ګرۍ سره د مقابلې او د خپلې تنخواه د حلالولو په جذبې سره جنګ او مقابله کوله هغوی د حال له منځه څه خبر وو؟

که څه هم دغه لانجه د سوونو انسانانو په وینو توېدلو سره ظاهراً تر سره شوه خو دې لانجې چې د اسلام او قانون د بدنامولو او شرمولو نه علاوه کوم منفی اثرات د مسلمانانو په ذهنونو باندې پرېښودل او خلق یې له کومو شکونو او شوبو سره مخامخ کړل د هغو تلافی جبرانېدل ډېر ګران دے او د دغو منفی اثراتو نقصان د وینو له توېدلو او د دواړو خواو کسانو له ځایه ضائع کېدلو نه زیات دے.

نن په هر ذهن کښې رنګ رنګ سوالونه راځی چې ایا دا جومات او مدرسې د حکومت په اختیار کښې نه وې څه؟ ایا دا ملایان د حکومت تنخواه خوارۀ نه وو څۀ؟ دغو ملایانو ته دا دومره سرمایه او وسلې له کومه خوا راتلې؟ ایا د پاکستان په پائتخت اسلام اباد او په تېره بیا په جی شپږ غوندې سیمه کښې دغه جومات او مدرسو شتون باوجود دومره موده حکومتی امینتی او انتلی جنس ادارې د دوی له دې فعالیتونو نه بې خبره وې؟ ایا په پاکستان کښې د دا ډول مدرسې او ملایان نور نشته بس دا ځاے ؤ یا حکومتی ادارې له هغوی نه خبرې نه دی؟ ایا په افغانستان باندې د پخوانی شوروی د قبضې په وختونو کښې په پاکستان کښې د امریکې، اروپائی هېوادونو او عربو باچایانو او شېخانو د پاکستان د مذهبی چارو د وزیر اعجازالحق د پلار ضیاء الحق په ذریعه د افغان مهاجرو په نامه د دا ډول مدرسو او د جهاد په نامه د وسله والو تنظیمونو او ډلو جوړولو بنا نه وه ایښې څه او هغوی ته د ضیاء الحق په دور کښې او د هغۀ نه په وروستو دورونو کښې فوځی ټرېننګونه نه وو ورکړې شوی څه؟ ایا داسې خو نه ده چې کومې ډلې، تنظیمونه، مدرسې او جوماتونه چې د امریکې تر پلان لاندې د ذکر شویو عناصرو په سرمایه او سرپرستۍ کښې جوړ کړې شوی دی د اسلام د بدنامولو په هدف سره د تباه کولو کوششونه خو نه دی روان؟ ایا د لال جومات او حفصې او فریدیه مدرسې د لانجې په ختمېدو سره به د مذهب او اسلام په خلاف روانه لانجه هم ختمه شی او که نه دوام به ولری او دې پسې د کومې ډلې، کوم جومات او کومې مدرسې نوبت دے؟

په هر حال د دا ډول ګڼ شمېر سوالونه د خلقو په ذهنونو کښې پېدا کېږی. خو دا څه لوبه چې نن سبا روانه ده نو هغې ته په پام سره یو ځواب تقریباً معلوم دے چې دا لانجه لا ختمه نه ده او هغو سترو هدفونو ته د رسېدو لپاره به دا لوبې دوام ومومی او هره فرقه، هر مسلک، هره ډله او هره مدرسه به خپل خپل وارې تېروی او ځپلې او ختمولې به شی چې د دې مثال به په یوې قیصې سره لا واضح شی:

« وائی چې د یو کلی یو ملا له ځان سره دوه نور ملګری واخېستل چې یو عامی کس ؤ او یو سید ؤ او درې واړه له کلی نه بهر د مېوې یو باغ ته ورغلل او په غلا یې مېوې شوکولې چې په دې کښې ورته د باغ د باغوان چې یو چالاک سړے ؤ فکر شو. خو چې وې کتل چې دا درې کسان دی او مقابله یې ګرانه ده نو په زړۀ کښې یې یوه منصوبه جوړه کړه او د هغوی خوا ته ورنزدې شو هغوی هم په دې مطمئن وو چې دا یو کس زمونږ درې واړو مقابله نه شی کولې. باغوان هم په ذهن کښې د یوې منصوبې په جوړولو سره هغوی ته وویل چې زۀ په دې خبره ډېر افسوس کوم چې په تاسو کښې یو کس خو عامی کس دے او په ګناه او ثواب ډېر نه پوهېږی خبر دے که مېوې یې وشوکولې او دا بل هم سید دے د پېغبر اولاد دے او نیکۀ یې د کائناتو سردار دے او د اولا یې د کائناتو په هر څیز کښې ونډه ده. خو زۀ حېران دې ملا ته

یم چې یو خو له دینه ښۀ خبر دے، ګناه او ثواب هم پېژنی او تر ټولو غټه خبره دا چې دۀ ته مونږ د کلی خلق د نمونځ ورکولو باقاعده تنخواه او فصلانه ورکوو او عامی او سید کس ته یې وویل زۀ له تاسو ګیله نه لرم خو یوه مهربانی وکړئ چې د دې په برابرولو کښې راسره مرسته وکړئ. هغوی دواړه هم په زړۀ کښې ښۀ خوشحاله شول او ملا یې ورسره ونیوۀ او په رسۍ سره یې په ونې پورې ښه مضبوط وتړۀ. بیا یې عامی سړی ته مخ راوګرځوۀ او ورته یې ووې چې د فلانی بچیه دغه خو سید دے هغه خو په دې باغ کښې حق لری چې مېوې یې وشوکولې خو تا په کومه کاته کښې مېوې وشوکولې باید تاسره وګورم. او هغه یې هم د سید په مرستې سره ونیوۀ او په یوې ونې پورې یې وتړۀ او بیا پاتې سید شو نو بیا یې هغۀ ته مخ وګرځوۀ او ورته یې وویل چې ډېر افسوس دے چې ته ځان ته د پېغمبر (ص) اولاد وایې. ایا پېغمبر (ص) دا عمل کړے دے؟ ایا هغۀ دا درس پرېښے دے چې پردی مالونه بې له اجازته غلا کوه؟ پېغمبر خو د نورو په نسبت سېدان ډېر له حرامو کارونو او ګناهونو څخه ویرولی دی او سید د ګناه په اسلامی شریعت کښې یو په دوه حسابېږی نو بس هغه یې هم چې عاجز یو په بدن نرے او اوچ کړس ؤ راونیوۀ او په یوې ونې پورې وتړۀ او بیا یې یو کوتک راوخېست او درې واړه یې اول ښه اوډبول او بیا کلی ته لاړ او د کلی په تانه کښې یې د دریو واړو په خلاف شکایت وکړ او پولیسو ته یې په لاس ورکړل.))

نو بس نن هم په هر ځاے کښې د ښاغلی بوش، د هغۀ د انډیوالانو او ایجنټانو لخوا مسلمانو ملکونو، مسلکونو، مذهبونو، ډلو، جوماتونو او مدرسو سره د باغوان والا لوبه روانه ده او یوه یوه فرقه، یوه یوه ډله او یوه یوه مدرسه او یو یو جومات به د هغوی له مشرانو سره په ساز باز او سازش سره په نوبت نوبت ذلیلوی او بیا به په اخېر کښې هغه مشر هم وژنی لکه د صدام حسېن په هکله ویل کیږی چې امریکې هغه اول په ایران ورواچوۀ، بیا یې په کویت ورواچوۀ او بیا په همدغه بانه او له هغۀ سره د مقابلې لپاره عراق ته ورننوته او چې پښې یې لږې ټینګې کړې او د صدام حسېن څه اهمیت پاتے نه شو نو راټینګ یې کړو او وائی چې حتی د پانسۍ تختې ته تر رسولو پورې ورته امریکې دا ډاډګیرنه ورکړې وه چې تا ته څه نه وایو بس هسې دې د پانسۍ په تخته باندې څه تصویرونه اخلو او بیا دې امریکې ته لېږو بس ښه د مزې ژوند به کوې او چې په تخته یې وخېژولو نو بس هغه کار یې ورسره وکړ چې څه ورسره پکار وو.

نو بس دا لوبې روانې دی او یواځې دا نه چې دغه مرکزونه او مسلکونه او مشران به یې له منځه وړی بلکې په نړۍ کښې به پرې اسلام هم بدناموی. په اوس حال کښې یې خو شروع له هغو ملکونو، ډلو او مدرسو نه کړې ده چې هم په خپله یې جوړې کړی دی او بیا ورپسې د نورو نوبت دے. ځکه چې

امریکه چې په اوس حال کښې له اسلام سره مقابلې ته راوتلې ده غواړی چې اسلام او مسلمانان له نظریاتی لحاظه په دوو ډلو کښې وویشی او هغه دا چې یا خو به هغه اسلام منی چې په اصطلاح کښې ورته امریکائی اسلام وائی یعنې هغه اسلام چې پکښې اسلام فقط په یو لړ اوچو عبادتونو پورې محددو وی او نمونځ، روژې، حج، درسونو نه علاوه د اسلام په سیاسی، اجتماعی، کلتوری، اقتصادی او نورو اړخونو کښې هیڅ کار نه لری، او دا به نه وائی چې دا په مونږ کوم نظام مسلط دے دا کوم ډول نظام دے؟ زمونږ په ټاټوبی کښې اصل اختیار د چا دے؟ نظام عادلانه دے که ظالمانه؟ زمونږ حکومتونه د چا تر تسلط لاندې په مونږ باندې حکم چلوی؟ زمونږ د ملک سرمایه د چا خزانو ته ځی؟ په افغانستان کښې ولې امریکه او د هغې انډیوالان راغلی او په مختلفو بانو سره زمونږ افغانان، مسلمانان او بې ګناه، ښځې او ماشومان په وینو او خاورو کښې لوغړوی؟ او په عراق، فلسطین او نورو مسلمانانو سیمو کښې کوم ظلمونه روان دی، څوک یې کوی او د چا په ملاتړ سره کیږی؟ او داسې نورې ډېرې خبرې چې د اسلام اصل روح دے هغو کښې به هیڅ کار نه لری او خپل نمونځ اودس سره به کار لری یوه داسې ډله پېدا کوی. او یا داسې اسلام غواړی او داسې متحجره ډله مسلمانان غواړی چې هغۀ ته بې له ځانه او بې له خپلې ډلې نه نور ټول کافران ښکاری، چې هغه بې ږیرې یا وړې ږیرې والا کس کافر ګڼی ، تصویر وېستل کفر ګڼی، هر نوے سائنسی او علمی کار کوونکی کافران ګڼی هر، په دین کښې عقل او پوهې نه کار اخېستل حرام ګڼی او د نمونځ په وخت کښې هندو او مسیحی یې هم په زور نمونځ ته روان کړې وی او ورته وائی چې په مسلمانه سیمه کښې اوسېږې نو ستا پلار به هم نمونځ کوی، او وخت بې وخته یې کوتک او ټوپک په اوږه کړې وی او بې موسمه جهادونه کوی او په ځاے د دې چې افغانستان، عراق او فلسطین غوندې د مسلمانانو له سټراټیجکو سیمو څخه د دامریکې، اسرائیلو او د هغوی د انډیوالانو تسلط ختم کړی ځاے په ځاے په مسلمانانو او بې ګناه خلقو باندې ځان وژونکې حملې کوی او بې ځایه ځانونه هم تباه کوی او نور بې ګناه خلق هم تباه کوی. او بیا امریکه او د هغې ملګری هم د دغې سرزورې او افراطی ډلې په ذریعه د اصل اسلام د څېرې د بدرنګه ښودلو او د بدنامولو نه علاوه د دهشت ګردۍ او ترهه ګرۍ په نامه د هغې په ځپلو سره ډېر بې ګناه او نا پوه او د اسلام په نامه دوکه شوی ساده خلق هم ټکو سترې کړی.

په هر حال امریکه او د هغې ملګری همدا دوه ډوله اسلامه غواړی چې پراختیا ومومی چې یا خو بس له خپل نمونځ اودس سره کار ولری او یا په مخالفت او ضد کښې په راتلو سره که نه وی هم د طالبانو غوندې افراطی او اورپکو ډلو سره ملګری شی. او یا که د امریکې د نظر وړ دغو دواړو ډلو کښې یوه ډله نه اسلام نه خوښوی نو بیا پکار دی چې مجبور شی او دین او مذهب ته خداحافظی ووائی او هره

ړیره، هر ملا، هر مذهب او هردین او دینی خبره پرې بده ولګی او بې دینۍ چې کمیونزم خو ختم شو اوس سیکولرازم ته غاړه ورکړی.

خو اوس سوال دا پېدا کیږی چې د مسئلې حل څه دے او مسلمانان به ځانونه څنګه له دې جبۍ نه وباسی؟ نو عرض به وکړم چې له هر څه نه مخکښې خو هغو ټولو مسلمانو فرقو او ډلو ته چې په اسلام کښې د افراط او تفریط مخالف دی او اعتدال خوښوی په یو مرکز غونډېدل پکار دی او په خپلو کښې یو بل ته په خلوص سره د ورورۍ او دوستۍ لاسونه ورکول پکار دی دلته پکار دی د دې خبرې وضاحت وکړم چې د مسلمانو له اتحاد او یووالی نه مراد دا بالکل نه دے چې ګنې ټولې فرقې او مسلکونه دې یواځې یوه عقیده خپله کړی او خپل خپل مسلکونه او فقهې دې پرېږدی. نه بلکې د مسلمانانو له یو والی او پېوستون نه مراد په خپلو خپلو عقائدو او فقهو باندې له عمل کولو سره سره د اسلام په اصولو او مشترکاتو باندې یو ځاے کېدل پکار دی چې همدا د کامیابۍ لاره ده خو البته په دغه اتحاد کښې یو بل ته دوکه ورکول نه دی پکار او په عمل کښې ډېر خلوص پکار دے.او دلته باید په افسوس سره ووایم چې د مسلمانو فرقو او ډلو اکثر مسلمان مشران او ملیان د اتحاد په کار کښې له خلوص نه کار نه اخلی. لکه زهٔ به یو مثال د پاکستان د مذهبی ګوندونو او ډلو درکړم. چې کله دغو مذهبی مشرانو غوښتل چې د ذوالفقار علی بوټو په خلاف د اسلام په نامه یو ځاے شی نو د «د قومی اتحاد» په نوم یې یو اتحاد جوړ کړ چې په دې نامه کښې هډو د اسلام نوم نشته. بیا یې غوښتل چې د نواز شریف په خلاف یو محاذ جوړ کړی نو د «ملی یکجهتی کونسل» په نوم یې یو ائتلاف جوړکړ خو په دې نامه کښې هم د اسلام نوم نشته. اوس یې بیا د پرویز مشرف په خلاف یو مذهبی اتحاد جوړ کړې دے او نوم یې ورته «متحده مجلس عمل» ایښے دے چې په دې کښې هم د اسلام نوم نشته.

ښه مې یاد دی چې کله دوی «ملی یکجهتی کونسل» جوړ کړ او په پېښور پرل کانټی نېنټل هوټل کښې یې غونډه رابللې وه نو زمونږ ملګرو د ورځپاڼو په ذریعې سره هغوی ته په څو ټکو د عمل کولو بلنه ورکړه:

یو دا چې په دې نوم کښې د اسلام ټکے نشته چې دې نه دا پته لګی چې تاسو اوس هم یو بل مسلمان نه تسلیموئ او که نه یو بل مسلمانان منئ نو بیا د دې تنظیم نوم «اسلامی یکجهتی کونسل» کېږدئ بل دا چې د اسلام په خاطر خپل خپل ګوندونه، خپل بېرغونه او خپل خپل منشورونه ختم کړئ او بس یو ګوند یو یې بېرغ او یو یې منشور وټاکئ، همدا رنګ د یو بل په جوماتونو او مذهبی مرکزونو کښې مشترکه اجتماع ګانې او یو بل پسې نمونځونه وکړئ. او بل دا چې دغه مذهبی مشران دې له یو بل سره خپلوۍ جوړې کړی او یو بل نه دې لونړه او خوېندې وکړی او ور دې کړی او د هغو خپلویو اعلانونه دې

په عوامی غونډو او رسنیوکښې وکړی چې د مسلمانانو په خپلو مېنځو کښې نفرتونه ختم شی او دغسې نور تجویزونه. خو هغوی په دغو تجویزونو کښې په یو هم عمل و نکړو چې دغه دې د متحده مجلس عمل ائتلاف یې ګواه دے. ما په خپل ژوند کښې زمونږ په پښتونخوا کښې یو شخصیت چې د مسلمانانو د اتحاد لپاره مخلص ؤ لیدلے ؤ او هغه د پښتونخوا په یوه لرې قبائیلی سیمه کرمه ایجنسۍ کښې زېږېدلے دینی عالم علامه سید عارف حسېن الحسېنی ؤ چې که څه هم هغه د مسلک لحاظ سره د امام جعفر صادق (ع) د فقهې پېروکار ؤ خو ټولې هلې ځلې یې د مسلمانانو د اتحاد او یووالی لپاره کولې او په عملی توګه به یې پرې په خلوص سره عمل کوۀ، لکه د هغۀ ماشومانو ته به په پېښور کښې یو سنی عالم اروانباد مولانا حېدرالدین راتلۀ او د قران مجید قرات او حفظ به یې ورته ښودۀ، او خپله علامه صېب په پېښور کښې د دینی مدرسې بیناد کېښود چې په دې مدرسه کښې به هم شیعه عالمان او شاګردان درس وائی او هم سنی. هم به پکښې مذهبی درس ښودلے شی او هم به پکښې دنیاوی تعلیم او علوم ښودلے شی نو یو خو دا چې کله له دې ځاے نه فارغ شی نو له دینی عالم سره سره به یو خدا ترس ډاکټر، انجنئر، افسر او نور هنر هم ولری او په اقتصادی توګه به په ټولنه باندې بوج نه جوړېږی. او همدا رنګ چې هر کله دوی په یو ځاے ژوند وکړی او درسونه ووائی نو بیا به په یو بل پسې دروغه پروپېګنډې نه کوی او له نزدې نه به د یو بل له مسلک نه خبر شی. او په ائنده کښې به د مسلمانانو د اتحاد او یووالی سبب وګرځی. همدا رنګ علامه صېب به خپل جومات، خپلې امام باړې او خپلو غونډو ته زیات سنی عالمان رابلل او وېناګانې به یې کولې او په یوبل پسې به یې نمونځونه کول او همدا رنګ به خپله هم سنی جوماتونو او غونډو ته تلو او نزدې وه چې د پاکستان ټول مسلمانان یو موټے کړی خو امریکې پرې نښود او د خپلو ایجنټانو او لاس پوسو په ذریعه یې شهید کړ. چې دغه پښتونه سید د مسلمانانو د اتحاد او یووالی لپاره یوه مخلصه بېلګه او نمونه وه. که څه هم هغۀ خپله قربانی ورکړه خو تر ډېر حده پورې یې د خپل مسلک له پېروکار او تر یو حده پورې د سنی ورونو له زړونو نه نفرتونه او بغضونه ختم کړل.

نو مقصد مې دا ؤ چې تر څو هغه مذهبی مشران چې له افراط او تفریط نه بالا تر وی په خلوص سره د اسلام په نامه نه وی راغونډ شوی نو هیڅکله له دې تباهۍ نه ځانونه نه شی ژغورلې.

بل مهم ټکے چې ورته مذهبی فرقو، مسلکونو او ډلو ته زیاته پام لرنه پکار ده هغه «اجتهاد» دے او تر څو چې مسلمانو فرقو او ډلو د اجتهاد دروازه نه وی خلاصه کړې تر هغه نه یوائې دا چې له زمانې سره تګ ورته ګران دے بلکې تل به د اسلام له دښمنانو نه د خپلو زړو او متحجرانه خیالاتو په وجه وهل خوری او دا هم امکان لری چې بالکل له منځه لاړ شی. ځکه چې په داسې د فتنې دور کښې اجتهاد

يواځېنۍ لاره ده چې له فتنو او تباهۍ نه پرې بچ کېدې شي. نن هسې هم که مونږ د نړۍ حالاتو ته سترګې وغړوو نو يواځې هغه نظرياتي مسلکونه، ګوندونه او ډلې مخ په وړاندې روان دي او د هر ډول حالاتو مقابله کوي چې اجتهاد لري.

نو همدا دوه ټکي دي چې پکښې د اسلام او مسلمانو د بقا او ژوند راز پټ دے او هغه دوه ټکي «اتحاد» او «اجتهاد» دے چې په دې کښې که په وړومبي ټکي عمل وشو او د خلوص، مينې، او ورورولۍ څرګندونه وشوه نو که له بده مرغه کوم مسلک پکښې اجتهاد نه وي خپل کړې نو بيا هم څه اميد شته چې د اجتهاد لرونکو مسلکونو او ډلو په خاطر خپل ژوند وکړي خو که اتحاد هم ونکړي او اجتهاد هم و نه لري نو له تباهۍ او فنا نه نۀ شي بچ کېدې او يواځې او يواځې به په اسلام کښې هغه مسلکونه او ډلې ژوندۍ او کاميابې پاتې شي چې اجتهاد يې لرلې وي. د نړۍ د ټولو مسلمانانو د يووالي، ورورولۍ، خلوص، او اجتهاد ته د مخې کولو په دعا سره.